# تــل افغــان

www.talafghan.com

**خپلواکه ،ناپيیلې ، ټولنيزه اوفرهنگي وېب پاڼه**

((په افغانستان کې د سولې او پخلاينې لار)) څېړنيزه طرحـــــه د روسيې د دموگرافۍ، مهاجرتونو او منطقوي پرمختيا انستيتوت له خوا وړاندې شوې ده. د طرحې له محتـــوا سره موافقت يا مخالفت د لوستونکو کار دی، تل افغـــان وېب پاڼه د دغې طرحې پښتو متن يوازې د هېوادوالو د معلوماتو لپاره خپروي.


# په افغانستان کې د سولې او پخلاينې لار

## څېړنيز رپوټ

د افغانستان په هکله د روسيې راتلونکی دريځ ټاکل کيږي



# په افغانستان کې د سولې او پخلاينې لار

د څېړنيز رپوټ طرحه

دروسيې د دموګرافۍ، مهاجرتونو او منطقوي پرمختيا انستيتوت
2008 ز کال مسکو

دغه رپوټ (( په افغانستان کې د سولې اوپخلاينې لار ، د افغانستان په هکله د روسيې راتلونکی دريځ ټاکل کيږي )) د روسيې د دموګرافۍ، مهاجرتونو او منطقوي پرمختيا انستيتوت اود بين المنطقوي پرمختيا د بهير ټولنيزسازمان په ګډو هڅو جوړ شوی دی.

د رپو ټ اساسي هدف دا دی چې د افغانستان په باب د روسيې د دولت د نوي سياست د ټاکلو لپاره اجندا او تيزيسونه وړاندې شي او د نظر خاوندان د بحث ميدان ته نظريات را بهر کړي.

د دې رپوټ په تر تيبولو کې د روسي او افغاني کارپوهانو او تحليلګرانو د مختلفو او کله کله مخالفو نظرياتو، د افغانستان د سيمه ييزو مطالعاتو د مرکز (Regional Studies center of Afghanistan ) له موادو ، دمعاصر افغانستان د څېړنې د مرکز له تحليلونو، دروسيې او نورو بهرنيو هيوادونو نا دولتي سازمانونو او په همدې ډول دافغانستان په هکله د ډله ييزو مطبوعاتو لخوا له خپرو شويو موادو څخه استفاده شوې ده.

د رپوټ ترتيبوونکي:

يوري کروپنوف د ليکنې د ډلې مشر ،
ايل نور باتيرشين ،
اندرانيک دېرېنيکيان ،
باريس کروپنوف ،
سېرافيم مېلېنتېف

©دروسيې د دموګرافۍ، مهاجرتونو او منطقوي پرمختيا انستيتوت 2008 کال

## د بحث موضوعات :

۱. د روسيې او نړۍ لپاره د افغانستان ستونزه
۲. د روسيې په ټولنه کې د((افغانستان د لانجې)) دحل په باب دريځونه
۳. واحد او خپلواک افغانستان
۴. د افغانانو عمومي پخلاينه
۵. طالبان څوک دي
۶. د امريکا اوناټو فکتور
۶. نوی منځنی ختيځ
۷. د افغانستان د پرمختګ هر اړخيز پلان
۸. د پرمختيا صدور
۹. د افغانستان پرمختيايي پروژې
۱۰. د افغانستان د پرمختګ لپاره د ګاونډيو هيوادو همکاري
۱۱. د شانګهای د همکاريو د سازمان فکتور
۱۲. له پښتنو سره د روسيې ډيالوګ
۱۳. په لوړه سطحه د روسيې او افغانستان د دولتونو ترمنځ د همکاريو اجندا اود هغوی لومړيتوبونه
۱۴. نتيجه ګيري

## د روسيې او نړۍ لپاره د افغانستان ستونزه

په افغانستان کې دوامداره روانه کورنۍ جګړه او د هغې سره د ځینو هیوادونو د سیاسي او نظامي کړیو برخورد چې په پرنسیپ کې یا نه شي کولای او یا نه غواړي د افغانستان خلکو ته سوله او پخلاینه تامین کړي ، دروسیې اوځینو نورو هیوادونو په وړاندې د پام وړ خطرونه رامنځته کوي اوهغه دادي:

- د روسیې لپاره په افغانستان کې دتو لید شوو مخدره موادو زیاتوالی اساسي خطر رامنځته کړی دی،ځکه په روسیه کې اکثریت معتاد خلک په افغانستان کې تولید شوو مخدره موادو باندي اخته دي اوپه عموم کې ددې معتادو خلکو شمېره په دوامداره توګه زیاتوالی مومي، په ورستیو پینځو کلونو کې د افغانستان څخه روسیې ته د مخدره موادو په صادراتو کې چې هغه د افغاني کوکنارو (اپینو) څخه دي ، ګڼدی زیاتوالی راغلی دی.

- د منځنی اسیا په هیوادونوکې د نړیوالو جنایتکارانو او دمخدره موادو د قاچاقچیانو د قوت خطر چې له افغانستان څخه د همدې هیوادونو له لارې روسیې ته دمخدره موادو کار وبار کې سره نږدې اړیکې لري ، مخ په ډېرېدو دی.




- د روسیې لپاره په افغانستان اوګاونډیو هیوادو کې د امریکا دمتحده ایالاتو اوناټو دپوځي غټو اډو زیاتوالی او ځای پرځای کېدل بنستیز خطر ګڼل کیږي .

- په افغانستان کې پرلپسې جګړې او پوځي عملیات او د دغه هیواد په کورنیو چارو کې د بهرنیو هیوادونو لاسوهنه د روسیې لپاره په مستقیم ډول اویا د منځنی اسیا دهیوادونو له لارې اساسي ګواښ دی اودغه ګواښ د روسیې په دفاعي ځواک او پوتنسیال منفي اغیزه کوي.

د افغانستان په پورتنیو حالاتوکې چې نه یې سیاسي ـ اقتصادي اونه یې هم د پوځي حل لارې معلومې دي ، روسیه دپورتني خطر او تېرې پر وړاندې د ځان د دفاع او ددغه خطر د مخنیوي لپاره تیار او ډاډمن میتودونه ، وسایل او تکنالوجي په لاس کې نه لري.

سلیم تحلیل په ګوته کوي چې دپورتنیو خطراتو او ګواښونو دلیرې کولو لپاره باید په افغانستان کې د یو قوي مرکزي دولت په جوړولوکې فعاله ونډه واخیستل شي ترڅوافغانستان په خپلواک او غښتلي هیواد تبدیل شي. د همدې موخې لپاره په کار ده چې نوي پرنسیپونه او لارې چارې ولټول شي . په دغو نویو پرنسیپونو اوکړنلارو کې باید سیاسي ،اقتصادي ،کلتوري ،ټولنیزې اوبشري برخې شاملې وي او له همدې لارې د افغانستان د پرمختګ اساسي لورې برابر او راتلونکې وټاکل شي.




د پرمختګ په نویو میتودونو او کړنلارو کې باید داسې لارې چارې ولټول شي چې افغانستان وکولای شي خپل دولتي حاکمیت ټینګ کړي ، د یو ازاد او خپلواک هیواد په توګه دخپل ځان څخه دفاع وکړای شي، د جنګ د اوږدې مودې ټولنیزو او اقتصادي ویجاړتیاوو بیا رغونه وکړای شي ، د پرمختللي اقتصادي سیستم په رامنځته کېدو سره ځان له اوسني حالت څخه چې دخلکو دکلنیو عوایدو له نیمې څخه زیاته برخه د مخدراتو په اقتصاد ولاړه ده، راوباسي او د یوې پرمختللې ټولنې په چاپېریال کې د افغانانو د ژوند د هوسا ینې شرایط برابر شي.

## د روسیې په ټولنه کې د(( افغانستان د لانجې )) دحل په باب دریځونه

په افغانستان کې د 1979 کال له ډسمبر څخه د 1989 کال تر فبروري پورې په جنګي عملیاتو کې د افغانستان د هغه وخت د حاکمیت په طرفدارۍ دپخواني شوروي اتحاد دپوځي قطعاتو د تراژیدیک ګډون سندروم لا تر اوسه پورې د روسیې په ټولنیز ذهنیت کې پاتې دی.

د جنګ په دغوکلونو کې دشوروي اتحاد ګډون، کمزورتیا اوبیا دشوروي د پاشل کېدو له شامته دغه لسیزې ته په منفي او کله کله د تحقیر او اهانت په نظر وکتل شول. ددې خبرې اساسي انګیزې په اتیاومو کلونو کې د فدراتیفي روسیې دنویو رامنځته کېدونکو ملتپالو (نشنلستو) سیاسي کړیو اودهغوی د پلویانو غوښتنې وې چې ویل یې د روسیې سرحدونه باید په خپل ځای وي ، اوپه افغانستان کې لاڅه چې په منځنۍ اسیا کې پاتي کېدل د فدراتیفي روسیې ملي او ستراتیژیکې ګټو لپاره منفي پایلې لري.

د روسیې په حاکموکړیو کې تر اوسه دملتپالنې روحیه د پخوا په څېر دمخکښې ایدیالوژۍ په توګه پاتې ده. په داسې حالاتو او نننیو شرایطو کې پورتنۍ روحیه په تاریخي لحاظ د روسیې لپاره ګټه نه ده. د پورتنۍ روحیې د منفي پایلو د څرګندې نمونې په توګه (( د شلمې پیړۍ د ستر سیاسي جغ ناورین )) (و. و پوتین ) په حیث د شوروي اتحاد ړنګېدنه یادولای شو .

د پخواني شوروي اتحاد پرځای د مشترک المنافع هیوادونو د سازمان ناموثریت، د قفقاز په سیمه کې سیاسي او پوځي بحران او نارامې چې ژوندی او ښکاره مثال یې د 2008 کال د اګست په میاشت کې په جنوبي اسیتیا کې را څرګند شو، د ناټو د غړیتو ب لپا ره د ګرجستان او اوکرائین دجمهوریتونو هلې ځلې کول او داسې نور مثالونه شته چې روسیه په تاریخي لحا ظ د نړۍ د سترو هیوادونو له ډلې څخه باسي اود سیمې دنورو عادي مملکتونو په ډله کې یې حسابوي.

په وروستیو شلو کلونو کې په روسیه کې د ناسیونالیستي سیاست د دکترینو دپلي کولو په نتیجه کې روسیه د عقب ګرایې د سیستم په یو محدود چاپېریال کې راګیر ده. په داسې حال کې چې

له يوې خوا مملکت په نړيواله کچه په سياسي او اقتصادي سيستم ( گلوباليزيشن ) په لور ريفورمونه پلي کوي او هغوی پورې تړل کيږي ، چې په نړيواله کچه د مالي بحران او نورو منفي پديدو چې هغه هم بهرنۍ منبع او اساس لري ، پر روسيې خپل تاثير اچولی دی اوله بلې خوا هېواد په نړيواله کچه هلې ځلې کوي او غواړي چې په دغه پروسه کې برخه واخلي.

د روسيې دولتي او سياسي حاکمې کړۍ په جغرافيوي لحا ظ دلېرې پروت افغانستان د کړکيچ دحل دلارو چارو په هکله بي تفاوته پاتې شوې دي، خو په ورستيو لسوکلونو کې د افغانستان موضوع د روسيې لپاره د جغرافيوي لېرېوالي سره سره د هرکال په تيريدو سره را نږدې کيږي ،او د افغانستان دلانجې حل د روان نړيوال سياست ورځنۍ مهمه اجندا جوړوي چې د روسيې لپاره يې د اساسي دندو ارزښت غوره کړی اود پلي کولو په برخه کې لومړيتوب ورکول کيږي .

د 2001 کال په دسمبر مياشت کې دملگرو ملتوتر مشرۍ لاندې په افغانستان کې د سولې د ټينگښت لپا ره د(( بن کنفرانس)) جوړ شو ، د دې کنفرانس څخه دادی اوه 7 کاله تيريږي ،د کنفرانس د پرېکړو په پلي کولو کې د بهرنيو هيوادونو پوځي قواوو (ايساف) چې په افغانستان کې د سولې ساتلو لپاره ځای پرځای شوي دي ونشو کولای هغه هيلې چې د بن دکنفرانس د پريکړو څخه نړيوالې ټولنې اود افغانستان خلکو درلودې ، پلې کړي.

له بلې خوا نه يوازې د روسيې بلکې دنړۍ د نورو پرمختللو هيوادونو لخوا هم په جنگ ځپلي افغانستان کې چې داقتصاد اساسي برخه يې د مخدره موادو په تجارت او کاروبار پورې تړلې ده او ددغه هيواد بې امنيو او اقتصادي کمزورتيا د سيمې د هيوادونو په اقتصاد هم منفي اغېزه کړې ده




د سولې د ټينگښت ، گډوډيو دمخنيوي د پرمختللي اقتصاد د رامنځته کېدواوپه مجموع کې د افغاني بحران څخه د وتلو کوم مشخص او ځانگړی پلان نشته .

په دې ډول د افغانستان د لانجې حل له روسيې او نورو مشترک المنافع هېوادونو څخه غواړي چې د ايگويزم د نشنليستي افکارو پر ځای د ازاد بازار د انتخاب شوي سياست په ملتيا مخامخ سياسي ، اقتصادي او کلتوري غوڅو اقداماتو ته لاس واچوي اود اوسنيو شرايطو په نظر کې نيولو سره د راتلونکلي لپاره د روسيې دولتي اوسياسي کړۍ د افغانستان لپاره خپله کړنلاره وټاکي.

د افغانستان د کړکېچ د حل په هکله په روسي ټولنه کې درې اساسي دريځونه موجود دي ، چې يودبل سره مغايرت لري:

**لومړی دريځ : د افغانستان په کورنيو چارو کې نه لاس وهنه**

په روسيه کې ددغه دريځ طرفداران وايي چې د افغانستان غميزه بايد د پخوا په څېر پردۍ وگڼل شي او د افغانستان دلانجې په چارو کې د نه لاس وهلو تر څنگ يوازې د افغانانو لپاره بشري مرستې اوپه سمبوليکه توگه په اقتصادي پروژو کې سرمايه گذاري وکړي . روسيې ته پکار دي چې په افغانستان کې د بهرنيو قواو موجوديت تائيد او د افغانستان په خاوره کې د تروريزم پر وړاندې د امريکا د متحده ايالاتو، ناټو او نړيوال ائتلاف د مبارزې ملاتړ وکړي .

**دوهم دريځ : عملي سيا ست Real politic**

ددې دريځ پلويان په دې عقيده دي چې روسيه نه شي کولای د افغانستان په حالاتو باندې




اغېزه وکړي . بر سېره پر دې په افغانستان کې اتنيکي ( قومي ) مخالفتونو داسې حالت او شکل نيولی دی چې په ننني شرايطوکې د افغانستان واحد پاتې کېدل نا ممکن ښکاري ، له همدې کبله روسيې ته پکار ده چې د افغانستان شمالي ولايتونو سره خپلې اړيکې پراخه کړي او که چېرې په افغانستان کې قومي مخالفتونه پراختيا مومي او دغه هېواد تجزيې سره مخامخ کيږي ، ښايي په اتنيکي لحاظ په دوو شمالي او جنوبي برخو د افغانستان د ويش ملاتړ وشي. اوپه شمال کې د بوفر په شکل د يوې بې خطره ساحې د رامنځته کېدو سره مرسته وشي.

**دريم دريځ : د واحد، خپلواک او د غښتلي مرکزي دولت لرونکي افغانستان جوړونه**




د دې دريځ پلويان په دې باور دي چې د روسيې گټې په ازاد ، خپلواک او واحد افغانستان کې نغښتې دي، افغانستان بايد د ډيورند د کرښې معضله يوې نامعينې راتلونکې ته پريږدي، اوس يوازې واحد او قوي افغاني دولت کولای شي چې د مخدره موادو داقتصادي سيستم،دتروريزم او د خپلمنځي مقاومتونوڅخه راووځي ، او د سيمې د سازمان يافته جنايتکارانود ډلو ټپلوپه وړاندې مبارزه وکړي ،او په دايمي ډول په خپله خاوره کې د بهرنيو پوځي اډو

مخنیوی وکړي.

یوازې واحد ،خپلواک افغانستان او د دې هیواد قوي مرکزي دولت کولای شي چې نه یوازې په خپله خاوره کې ،بلکې د گاونډیو هیوادونولپاره د سولې او امنیت د ټینگښدوشرایط برابر کړي . لکه څرنگه چې پدې برخه کې یو څېړونکی لیکي:

(( افغانستان په منځني ختیځ کې د زړه ارزښت لري ،که چېري زړه په دوو برخو وویشل شي نو ټول بدن له منځه ځي .))

## واحد او خپلواک افغانستان

پورتني درې دریځونه د روسیې د سیاستوالو او سیاستپوهانو ټولنې په مختلفو ډلو ویشي او د روسیې سیاسي مشرتابه نه شي کولای چې د افغانستان په برخه کې ځانگړې سیاسي کړنلاره خپله کړي، له همدې کبله د افغانستان په باب د روسیې په سیاست کې کله ناکله انفرادي یا ډله ایز معقول او نامعقول عکس العملونه او یا نا انډوله اقداماتو ته لاس اچول کیږي .

د افغانستان په هکله څېړنې روښا نه کوي چې د روسیې لپاره یوازینۍ گټوره سیاسي لار دا ده چې د واحد اوخپلواک افغانستان په جوړیدوکې فعال رول ولوبوي ترڅو دافغانستان لانجې ته دپای ټکی کښېښودل شي. پورتنی سیاست به روسیې ته په نړیواله کچه د ستر طاقت او پرمختللي هیواد اعتبار ورکړي او په راتلونکي کې به روسیه د نورو سترو هیوادونو سره د پرمختگ لپاره لاره هواره او د نړیوالو نورو کشالو په حل کې به د یو بااعتباره هیواد په توگه برخه واخلي.

د افغانستان د لانجې په وړاندې د روسیې بې تفاوته او نامعلومه ستراتیژي د اسیا په زړه کې د امریکا د متحده ایالاتو او ناټو پوځي پراخوالي ته شرایط برابروي. سره له دې چې په تېرو اوو کلونو کې تجربو وښودله چې په افغانستان کې د امریکا او ناټو په مشرۍ د بهرنیو پوځي قواو موجودیت و نشو کولای افغانستان او د سیمې هیوادونو ته سوله او امنیت راولي.

د دوی دایمي موجود یت په مستقیم او غیر مستقیم ډول پوځي مقاومتونو ،جنگونو او گډوډیو ته لمن وهل دي، چې بیا په خپل وار د دغو گډوډیو د مخنیوي په نوم ،په سیمه کې د خپلو پوځي اډو پراخوالي ته شرایط برابروي.

د شما لي ولایتونو سره د اړیکو پراخوالی نه یوازې د افغانستان مشکل نه حلوي ، بلکې د منځني ختیځ په هیوادونو کې د تجزیې لپاره لار هواروي. د پخواني شوروي اتحاد د مرکزي اسیا په هیوادونو کې دگډوډیو پراخوالي ته لمن وهل کیږي او کورني مقاومتونه رامنځته کوي. په جدا گانه ډول له شما لي ولایتونو سره اړیکې نور هم په دولتي ادارو او امنیتي ارگانو کې گډوډي زیا توي او په دغو ولایتونو کې د سازما ن یافته جرایمو تاجکي او ازبکي ډلو او گروپونو ته د دې لارې څخه د مخد ره موادو قاچا ق او ترافیکو ته پیا وړ تیا او پراخوالی ورکوي.

د دوهمې موضعگیرۍ د پلویا نو په نظر د افغانستان په شما ل کې د ازادې او خپلواکې ساحې په رامنځته کېدو سره د منځنۍ اسیا هیوادونه د افغانستان د نارامه جنوبي سرحدونو لخوا نه یوازې نه په امن کیږي ، بلکې د خارجي مداخلو سره په شمال کې گډ وډ ي ، محلي جنگونه او نارامي نوره هم پراخیږي، دا گډ و ډي او جنگونه د مرکزي اسیا د هیوادونو څخه نیولي بیا د روسیې جنوبي سرحدونو ته را نږدې کېدای او پراخوالی موندلای شي.

د پور تنیو فاکتونو او دلایلو په نظر کې نیولو سره باید د روسیې په دکترینو کې د واحد ، خپلواک او قوي افغانستان را مینځته کېدل شامل او هغه ته د لومړیتو ب حق ورکړل شي ، پاتې دوه نورې موضعگیرۍ د سیمې او نړیوالې ټولنې شرایطو په نظر کې نیولو سره اشتباه او عملي بڼه نلري.

## دافغانانو عمومي پخلاینه

د واحد ،خپلواک او قوي افغانستان د رامنځته کېدو لپاره په افغاني ټولنه کې د اتنیکي گروپونو ، قومونو او قبایلو یووالي ته ضرورت دی ، دا یووالی باید د افغانستان د ټولو خلکو او د ننني حاکمیت سره د اپوزیسیون او ټولو مخالفو وسله والو ډلو په گډون سره د خبرو او مذاکرو له لارې رامنځته شي.

د 2001 کال د اکتوبر د میاشتې څخه را پدې خوا په افغانستان کې دنړیوالې ټولنې په شمول بهرنیو پوځي قطعا تو و نشو کولای چې د افغانستان لپاره د بن د کنفرانس پریکړې عملي او سوله رامنځته کړي ، له همدې کبله د بن کنفرانس ناکامه شو ، ضرور ده چې د ملگرو ملتو په مشرۍ (( د افغانستان لپاره د سولې اوبیا رغونې **International Conference for Afghanistan's Peace and Prosperity** )) په نوم نوی نړیوال کنفرانس جوړ شي.

د غه نړیوال کنفرانس باید د بن د پخواني کنفرانس د پریکړو د کمبودیو او اشتبا هاتو په نظر کې نیولو سره سازماندهي شي ، ددې کنفرانس بنسټیزه موضوع باید په افغانستان کې د دایمي سولې د ټینگښت او راتلونکی پرمختگ وي.

دغه کنفرانس باید د افغانستان په پلازمینه کابل کې جوړ شي. پدې کنفرانس کې د گډون لپاره د ټولو خلکو، قومونو ، قبایلو ، اداري واحدونو( ولایتونو ) استازي ، په همدې ډول د ټولو سیاسي گوندونو په شمول د هغو وسله والو ډلو استازي چې خبرو او سولې ته تمایل ولري ، راوغوښتل شي.

د افغانستان له خوا په کنفرانس کې باید لاندې اداري او سیاسي واحدونه گډون وکړي:

- د افغانستان د حکومت استازي ،
- د وسله وال اپوزیسون استازي ،
- د مدني ټولنو ، بشري او ټولنیزو انستیتونو استا زي ،
- د اکاډمیکو موسسو استازي ،
- دهغو خپلواکو سیاسي شخصیتونو استازي چې هیواد او نړیواله کچه اعتبا ر او اتورېته لري.

د نړیوالې ټولني لخوا باید د لاندې ارگانونو استازي گډون وکړي:

- دملگرو ملتونو استازي ،
- د شانگهای د همکارۍ د سازما ن استازي ،
- د پخواني شوروي اتحاد پرځای د گډو همکاریو د سازمان استازي ،
- د اسلامي کنفرانس د سازمان استازي ،
- د غیر منسلکو هیوادو د سازمان استازي ،
- د افغانستان دگاونډیو هیوادونو استازي ،
- د روسیې په شمول د سیمې د هغو هیوادونو استازي چې د افغانستا ن په حالاتو اغیزې لري ،
- د اروپایي ټولنې استازي ،
- د ناټو پوځي سازمان استازي .

د کنفرانس ګډون کوونکي باید په افغانستا ن کې د سولې د ټینګښت ، راتلونکي پرمختګ ، بیارغونې ، د راتلونکې سیاسي اداري او جوړښت په هکله پلان تصویب کړي ، همدارنګه په افغانستا ن کې د بهرنیو پوځي قطعا تو د ضرورت، وخت او شرایطو په هکله مسا یل وڅېړل شي.

په کنفرانس کې ضرور ده چې د افغانستان د بیارغونې او پرمختګ په هکله کمپلکس پلان جوړ او هو کې شي . دغه پلا ن باید د روسیې اود هغه هیوادونو لخوا چې د افغانستان په بیا رغونه کې رول لوبولای شي ترتیب اود کنفرانس د ګډون کونکو له خوا تصویب شي.

په همدغه وخت کې باید د کنفرانس د پرېکړو د مطالعه کولو او په هغو کې د تغیراتو د راوستلو لپاره په افغانستا ن کې بیړنۍ لویه جرګه را وغوښتل شي.

د ورستیو اوو کلونو په جګړو کې د روسیې پوځي قطعاتو برخه نه درلوده،له همدې کبله کولای شي چې په افغانستان کې د بې پرې هیواد په توګه د ټولو اړخونو په منځ کې د کنفرانس د پرېکړو په پلي کولو کې برخه واخلي.

په ملګرو ملتونو کې د دې کنفرانس د جوړېدو په هکله روسیه خپل وړاندیز طرحه کولاي شي.

## طا لبان څوک دي ؟

په افغا نستان کې د تلپاتې سولې ټینګښت له طا لبانو سره د ستونزو له حل پرته ممکن نه دي ، له همدې کبله لومړی باید د طالبانو په هکله تحلیل وشي ، ترڅو هغوی په افغانستان کې د سولې په خبرو کې د ګډون لپاره دعوت شي.

تر دې دمه د طالبانو د تحریک په هکله غلطې او نا درستې نظریې او تحلیلونه موجود دي:

لومړی- پدې هکله فکر کیږي چې طالبا ن یو منظم سازمان دی چې د ملامحمد عمر په مشرۍ د واحد مرکز څخه رهبري کیږي.

دوهم د اچې طالبان د القاعدې سازمان طرفدار ، تروریستان او بنیاد ګران دي چې ټول تروریستي عملونه رهبري ، سازماندهي او مسؤلیت یې په غاړه لري . دریمه اشتباه داده چې ټولو پښتنو ته د طالبانو په سترګو او بیا هغوی د القاعدې او تروریستانو په نوم یاد کړاي شي.

حقیقت دادی چې طالبان د مختلفو ډلو او ګروپونو څخه جوړ اود مختلفو هدفونو د لاسته راوړنو لپاره جنګیږي همدا علت دی چې د دوی کار او فعالیت په نا منظم ډول سره رهبري کیږي .

کېدای شي چې نن طالبان په درې ډلو سره وویشل شي:

**۱- تور طا لبا ن** : دا ډله طالبا ن د افغانستان اوسېدونکي نه دي ، دوی د عربو اود نړۍ د مختلفو هیوادونو څخه راټول شوي اشخاص او افراد دي چې د پیسو په بدل کې جنګیږي ، دوی ته د خپلو بادارانو لخوا پیسې ورکول کیږي چې په دایمي توګه د افغانستان په جنوب کې جنګونه سازماندهي او اګاها نه په مملکت کې ګډوډي را منځته کړي، اکثره تروریستي عملونه ، انتحاري حملې او انفجارونه د دوی لخوا ترسره کیږي چې د افغانستان د خلکو سره هیڅ ډول اړیکې نلري.

**۲- خړ طالبان** : دا ډله طالبان د افغانستان اوسېدونکي او جنګي روزل شوي دي ، بل هیڅ ډول کارنکوي ، دوی د هیڅ نړیوالو تروریستي ډلو سره نه دي تړلي ، دوی د دې لپاره جنګیږي چې ( ۳۰ ) کاله په هیواد کې سوله او امنیت نشته او په افغانستان کې د بهرنیو پوځي قواو شتون دی چې د جنګ لپاره یې شرایط برابر کړي دي.

**۳- سپین طالبان** : دا ډله خلک د مجبوریت له مخې په جنګي عملیاتو کې برخه اخلي چې د مملکت اقتصاد له منځه تللی دی او د کار کولو نور امکانات وجود نلري ، لدې لارې خپلو کورنیو او اولادونو ته ډوډۍ پیدا کوي. دوی خپل ځانونه طالبان نه شمېري.

د اپوزیسون اکثره وسله والې ډلې له سپینو طالبا نو څخه جوړې دي. که چېرې د دوی لپاره د نورو کارونو شرایط مساعد کړای شي،سپین طالبا ن به د جنګ پر ځای د سولې په فضا کې ژوند اختیار کړي.

په افغانستان کې د دایمي سولې د ټینګښت لپاره د پورتنیو دریو مشخصاتو په نظر کې نیولو سره ضروري او حتمي ده چې تورطالبان له منځه یوړل شي او هم د ګاونډیو په شمول د بهرنیو هیوادونو جاسوسي شبکو د تخریبي او تروریستي اعمالو مخنیوی وشي ، داسې سیاسي او اقتصادي شرایط باید رامنځته شي چې خړ او سپین طالبا ن خپلې وسلې پر مځکه کښېږدي او د جنګ پرځای د سولې ژوند غوره کړي.

د امریکا دمتحده ایالاتو او ناټو لخوا د 2001 کال کې د اکتوبر دمیاشتې عملیاتو د پیل په وخت کې د طالبانو په نوم د یو خاص پلان طرحه درلوده چې پښتانه یې د طالبانو اوبین المللي تروریستانو سره په یوې کتګورۍ کې شامل شمېرل. ځکه نو امریکا او د ناټو قواو ځانته ددې اجازه ورکړې ده چې د دولت ټول مخالفین او د اپوزیسون ډلې چې د افغانستان د دولت ، امریکا او د ناټو د قواو په وړاندې جنګیږي تروریستان وبولي، په داسې حال کې چې د افغانستان په خاوره کې د امریکا او د ناټو قواو ته د افغانستان خلک او په خاص ډول پښتانه د اشغالګرۍ په سترګه ګوري او د هغوی سره جنګیږي.

د طالبانو نوم د تروریستانو سره تړل شوی دی. په هر ځای کې طالب ، تروریست معرفي شوی دی . له همدې کبله د بهرنیو قواو د موجودیت لپاره شرایط برابر ، او امریکایان او ناټو وایې چې په افغانستان کې زموږ سره طالبان جنګیږي، دوی تروریستان دي او موږ په ټوله نړۍ کې د تروریزم سره په جګړه بوخت یو ، د همدې ضرورت پر اساس زموږ پوځي قطعات په افغانستان کې ځای پرځای شوي دي.

د پورتني روش په کارولو سره په افغانستان کې ټولو پښتنو ته د طالب خطاب وشو او پښتنو هم د مجبوریت له مخې خپل ځا نونه د طالبانو په لیکو کې ورګډ وګڼل، په داسې حال کې چې پښتانه د ټولنې د نیمایي څخه زیاته فیصدي تشکیلوي اود افغانستان د دولتي جوړښت بنسټ جوړونکي خلک دي . په دې ډول د تروریزم په وړاندې عملیات په افغانستان کې د ټولنې له نیمایي څخه د ډېرو خلکو په وړاندې په مخ وړل کیږي.

په عین حال کې د امریکې متحده ایالاتو او ناټو ته بل څه نه پاتې کیږي ، بې لدې چې په راتلونکو یو-دوه کلونو کې د طالبانو او اپوزیسون سره د خبرو او مذاکرو لار غوره کړي. د امکان څخه لېرې ندہ چې د روسیې مشر تابه ترڅو د طالبا نو او تروریستانو په غندنه مصروف وي تر هغو به دامریکا متحده ایالات او د ناټو هیوادونه ، طالبا ن او تروریستان پخپلو منځو کې د خبرو له لارې د ضرورت وړ موافقو ته ورسیږي.

# د امريکې دمتحده ايالاتو او ناټو فکتور

د ( نه ړنګېدونکې ازادۍ ) په نوم د امريکې د متحده ايالاتو د ارامو عمليا تو له پيل څخه را وروسته، بيا د 2003 کال په اګست کې د نړيوال سوله ساتي ځوا ک (ايسا ف **ISAF**) څخه ناټوته د قوماندې او رهبرۍ تر سپا رلو او تر ننه پورې چې دادی اوه کاله کيږي ، دې نتيجې ته رسيږو چې په افغانستا ن کې د ملګرو ملتونو لخوا د سولې د ټينګښت پلان له ناکامۍ سره مخ دی. په واقعيت کې تر پردې لاندې د افغانستا ن رهبري په مکمل ډول د امريکا د متحده ايالاتو او ناټو ته په لاس کې ورکول شوه. پايله يې دا شوه چې په دې هيواد کې سياسي او امنيتي حالات نور هم خراب او د مخدره موادو توليد څو چنده زيا ت شو.




د نړۍ د مختلفو هيوادونو د څېړونکو له نظره په افغانستان کې د امريکا د متحده ايالات او ناټو هيوادونه د تروريزم په وړاندې د جګړې تر شعار لاندې خپلې پوځي،سيا سي ، اقتصا دي ، جيوستراتيژيکې او جيو پوليټيکې ګټې او هدفونه لري ، دوی غواړي داروپا۔اسيا په منځ کې چې افغانستان او ټول منځني ختيځ پکې شا مل دي ، اساساً پوځي اډو ته پراختيا ورکړي، په همدې خاطر د امريکا متحده ايالات او نا ټو هيوادونه د تروريزم سره د جګړې په بهانه په سيمه کې خپل پوځونه ځای پرځای کوي.

د سپتمبر د **11** نيټې پيښو او د نړيوال تروريزم سره د جګړې له شروع څخه د امريکا متحده ايالاتو ته د دې شرايط او امکانات برابر کړل چې د مرکزي اسيا او منځني ختيځ په هيوادونو کې **19** نوې پوځي اډې ځای پرځای او په نتيجه کې د لومړي ځل لپاره د پخواني شوروي اتحاد جمهوريتونو خا ورو ته د امريکې او ناټو پوځي قطعا ت داخل شو.

په منطقه کې د امريکې د متحده ايالاتو د موجوديت اساسي هد ف په لومړي ګام کې د (لوی منځني ختيځ **Greater Middle East** ) چې له افغانستان څخه نيولې تر مراکش پورې اسلامي هيوادونه، او په دوهم پړاو کې د( لويې مرکزي اسيا **Greater Central Asia** ) پر هيوادونو چې له سايبريا څخه د هند تر شما ل پورې سيمه پکې شامله ده،د يو سراسري کنترول تامينول دي.




لکه څرنګه چې د 2005 کال دمارچ په مياشت کې د فريدريک ستار را په ليکنه کې راغلي دي : چې د( لويې مرکزي اسيا ) په جغرافيوي قلمرو کې چې اساسي محور يې افغانستان دی بايد يو داسې ځواکمن زون چې د ازاد بازار اقتصاد او سياسي روښانه کړنلاره ولري رامنځته شي. دغه هېوادونه به پخپلو منځو کې او د امريکا له متحده ايالاتو سره دوستانه اړيکې ولري ، د داسي يو زون په رامنځته کېدو سره تروريزم او بنيادګرايي له منځه وړل کيږي او د سولې لپاره شرايط رامنځته کيږي.

په همدې رپوټ کې د سيمې لپاره د امريکا د متحده ايالاتو د بهرنۍ سيا سې کړنلارې د تطبيق لپاره د دولتي ادارو په تشکيل نوې کتنه او د وظايفو فورمولبندي شوې ده.

د ( لويې مرکزي اسيا ) په نوم د جغرافيوي زون په اړوند د امريکا د متحده ايالاتو د ځينو ادارو په نظرياتو کې څرګند تفاوت موجود دی. په دې ډول د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو په طرحه کې د پخواني شوروي اتحا د مرکزي اسيا پينځه جمهوريتونه د روسيې سره يوځای د ايروايشيا په نوم جلا شوي دي او افغانستان د جنوب ختيزې اسيا په هيوادونو کې شامل دي.




داسې فورمولبندي عملاً د امريکې دولتي موسسات له داسې تصور څخه راګرځوي چې د لويې مرکزي اسيا هيوادونه بې شمېره مشترکې وجې او دلچسپۍ لري او لږ تر لږه داسې تحليل ته لاره نه خلاصوي چې د لويې مرکزي اسيا د هيوادونو او د هغوی دمنطقوي ګاونډيانو تر منځ ګټور مناسبات منعکس کړي.

د حالاتو تحليل څرګندوي چې د لويې مرکزي اسيا د هيوادونو د پرمختګ اوهمکاريو په باب د فريدريک ستا ر را لخوا په وړاندې شوې طرحه کې د امريکې متحده ايالات غواړي د جنوب ختيزې او منځنۍ اسيا هيوادونه د روسيې ، چين او ايران له ګډون پرته په خپل کنترول کې ولري.

د لويې مرکزي اسيا د هيوادونو د همکاريو رامنځته کېدل نه يوازې د امريکې متحده ايالاتو ته د دې شرايط برابروي چې د مرکزي اسيا هيوادونه د روسيې او چين له تاثير څخه وباسي، په مرکزي اسيا کې خپلې ريښې خښې کړي، دسيمې هيوادونه دخپل تاثير لاندې راولي او د افغانستان له خاورې څخه د الوتکه وړونکې کښتۍ په توګه کار واخلي.

په دې ډول په افغانستان کې د تروريزم په وړاندې دعملياتو په نتيجه کې ددې پرځای چې د تروريستانو مرکزونه له منځه وړل شوي وای ، دامريکې متحده ايالاتو د دې هيواد په خاوره خپل کنترول ټينګ کړ.

د کشالې دحل په پلمه دافغانستان په (کابل ، کندهار ، هرات ، شينډنډ ،بګرام ) او د مرکزي اسيا په ( ازبکستان ، قرغزستان ، تاجکستان ) په هيوادونو کې د امريکې دمتحده ايالاتو او ناټو پوځي اډې ځای پرځای شوې.

د امریکې متحده ایالاتو او ناټو پوځي دستګاه ته ډیر ښه شرایط او امکانات برابر شول چې له یوې واحدې نقطې څخه روسیه ، چین او ایران کنترول کړي او د ضرورت په وخت کې د سیمې د هیوادونو په وړاندې له دغو هیوادونو او له خپل پوځي موجودیت څخه استفاده وکړي.

څرنګه چې زبیګنیف بژیزینسکي لس کاله مخکې ویلي وو چې مرکزي اسیا۔ اروپا ( مرکزي یورواشیا ) د امریکې لپاره دجایزې ارزښت لري. دا دی د همدې جایزې څخه په استفادې دامریکا متحده ایا لات او د ناټو هیوادونو په مرکزي اسیا.اروپا کې خپلې پښې ټینګې کړې دي.

اروپا چې د سړې جګړې پرمهال دامریکې دمتحده ایالاتو له پاره د جبهې مقد مه کرښه وه اوس دامریکې دسیاسي او پوځي کړنلارې لپاره د جبهې عقبي کرښه ګرځېدلې ده او دجبهې لومړۍ کرښه د اسیا عمق ته داخله شوې او همدا علت دی چې نن اسیا د نړۍ د جیوپولیټیکي کشمکش مرکز ګرځېدلی دی.

د دې ناکراره سیمې لوديځ ته د نفتو ستر شتمن هیوادونه ایران ، سعودي عربستان ، او عراق چې د امریکا دمتحده ایالاتو د پوره کنترول لاندې راغلي دي ، جنوبي لوري ته د اټومي ځواک هیوادونه هند او پاکستان ،دشمال خوا ته روسیه او په اخرکې د ختیځ خوا ته د چین غښتلی هیواد دی چې امریکا ورته په راتلونکي کې د اساسي سیال په سترګه ګوري.

په دې کې د نړۍ ناکراره سیمې لکه افغانستان ، کشمیر ، د پخواني شوروي اتحاد د مرکزي اسیا جمهوریتونه ، د چین دخلکو جمهوریت د سینزیان ولایت او نورې شاملې دې.

نن په افغانستان کې د امریکې متحد ایالات او ناټو هیوادونه د تروریزم په وړاندې د پوځي عملیاتو د پردې ترشا غوارې لاندې موخې ترلاسه کړي:

- د روسیې ، چین او ایران کنترول ،
- د ګډې همکارۍ دهیوادونو د نږدېوالي مخنیوی ،
- د بریښنا د انرژۍ پر ذخایرو پوره کنترول ، دهغوی څخه پوره ګټه اخیستنه،په همدې ډول د قفقاز ـ کسپین دبحیرې او مرکزي اسیا دهیوادونو څخه دانرژۍ د خامو موادو د ټرانسپورټي لارو کنترول ،
- په سترا تیژیکي لحاظ د چین دخلکو دجمهوریت په خاوره کې خپل موجودیت ته پراخوالی ورکول ،
- په خپل کنترول کې د یاغي ایران راوستل ،
- دسیمې د هیوادونو داخلي او محلي ګډوډیو او جنګونو ته شرایط مساعدول او له همدې لارې د پراخو پوځي عملیاتو لپاره بهانې برابرول .

باید په ګوته شي چې د مرکزي اسیا ـ اروپا په څېر د نړۍ په داسې جیوپولیټیکي،جیوسترا تیژیکي او اقتصادي مهمه سیمه کې دامریکې دمتحده ایالاتو ځای پرځای کېدل د دوی د ګلوبالیزیشن او یو قطبي نړیوال سیستم د جوړښت د نظریې سره ارګانیک مطابقت لري.

دلته یو ځل بیا د روسیې د سیاسي دکتورینو هغې برخې ته مراجعه کوو چې د افغانستان په روانه لانجه کې د نه لاس وهلو تر عنوان لاندې یې پراخ شهرت پیدا کړی دی.

د روسیې د اکثرو ډیپلوماتانو ،پوځیانو او د هغوی دمشاورینو ، متخصصینو او څېړونکو په نظر د افغانستان په معضله کې مداخله نه کول ځکه ګټور دي چې د امریکا متحده ایالات په افغانستان کې په اقتصادي (مادي) ،سیاسي او پوځي لحا ظ کمزوري کیږي او د دې کمزورتیا په وجه نشي کولای چې د روسیې په کورنیو چارو کې لاس ووهي او په قفقاز کې ګډوډي رامنځته کړي.

روښانه ده چې دا ډول فکر د ساده او غیرمسلکي خلکو خیال او خوب دی او دا ډول کاذبه وطنپالنه لاندې روښانه واقعیتونه نفې کوي.

لومړی۔ د امریکا او ناټو تلفات په افغانستان کې ډیر کم دي. د افغا نستان د اشغا ل په اوه کلنه موده کې د امریکا او ناټو تلفات ټول ( 546 ) تنو ته رسیږي . په داسې حال کې چې په افغانستان کې دشوروي اتحاد پوځي قطعاتو په اوه کلنه موده کې تلفات ( 5703 ) تنه وو.

د یوې بلې مقایسې له مخې په امریکا کې ټولې مظاهرې د عراق څخه د پوځي قطعاتو د وتلو په خاطر ترسره کیږي ، په عراق کې د 2003 کال راپدې خوا د 4000 تنو څخه زیات تلفات لري ، ولې د امریکې په ټولنه کې دافغانستان د حالاتو او پیښو په باب کوم خاص عکس العمل نه لیدل کیږي.

بر سیره پر دې د امریکا دمتحده ایالاتو نوی جمهور رئیس بارک اوباما غواړي له عراق څخه ځینې پوځي ټولګي وباسي او هغه افغانستان ته ولیږي.

دوهم۔ داچې اوریدل کیږي امریکا یان او د ناټو پوځیان دخپلو پوځي اډو څخه بهر په حالاتو کنترول نلري او د مخدره موادو د قاچاقو په مافیا باندې بری ناممکن دی.

خو پدې باب هیڅوک دا سوال نه مطرح کوي چې: ایا امریکا او ناټو غواړي چې په افغانستان کې د خپلو پوځي اډو څخه بهر حالات او شرایط کنترول کړي ؟

د ناټو پوځي ټولګي برعکس د هیواد په ولایتونو کې په خپلو راډیویي خپرونو او تبلیغاتي پاڼو کې توضیح کوي چې په افغانستان کې د ناټو پوځي قطعات یوازې د تروریزم سره د مبارزې مسؤلیت لري ، دافغانستان د کورنیو نورو ستونزو او مخدره موادو ( د کوکنارو کښت ) سره مبارزه د دوی د خپل کورنی کار دی ، ناټو یې مسؤلیت نلري.




دریم ۔ داچې په افغانستان کې د امریکایي قطعاتو زیاته برخه لګښتونه د امریکا دمتحده ایالاتو د پوځي دفاعي صنعت د کمپلکس سیستم او دفاعي تامیناتو د کمپنیو له لارې تمویلیږي او د امریکا دخلکو ( مالیه ورکونکو ) پیسې د امریکا داقتصادې بودیجې له پلان څخه نه وځي.

برسیره پر دې په افغانستان کې دایمي بې ثباتي ،نا امني ، ناکراره او خطرناکه حالات د امریکې د دفاع وزارت ( پنټاګون ) لپاره ښه تحفه ده ، ځکه چې د دفاع وزارت هر کال د کانګرس څخه په پوځي بود یجه کې زیاتوالی غواړي چې وکولای شي د امریکې د پوځي وسایلو ځینې کمپنۍ، فابریکې او کارخانې فعالې وساتي.

په افغانستان او د سیمې په هیوادونو کې د بې ثباتۍ او بې امنیتۍ دغه حالت چې په ورستیو دیرشو کلونو کې پخپله د امریکا دلاس محصول دی په خاص ډول د نړیوال ژور مالي بحران په شرایطو کې د امریکا په گټه دی.




څلورم . افغانستان دخپل جغرافیوي موقعیت له مخې د امریکا او ناټو هیوادونو لپاره دخپلو ستراتیژیکي قرارگاو او پوځي تعرضي ټولگیو دځای پرځای کولو پخاطر سوق الجهشي نقطه ده ،د دوی لپاره د افغانستان خاوره د یوې لوبې طیاره وړونکې کښتۍ ارزښت لري.

د امریکا دمتحده ایالاتو او ناټو د پوځي ټولگیو او قطعاتو د اشغال سره سم د شینډنډ او بگرام په هوایي ډگرونو کې د ځمکې پرمخ او د ځمکې لاندې دمختلفو ودانیو او ساختمانونو په جوړولو پیل شوی دی، ددې ساختمانونو څخه معلومیږي چې د افغانستان په خاوره کې دځمکې پرمخ او د ځمکې لاندې ښارونو جوړول د امریکا او ناټو د پوځي موجودیت اساسي هدف دی.

د بگرام او شینډنډ هوایي ډگرونه په پرمختللو پوځي اډو بدل او په پرمختللو تخنیکي وسا یلو سمبال شوي دي چې کولای شي د یوروایشیا دهیوادونو ځمکنی او فضایي قلمرو ترخپل کنټرول او چتر لاندې راولي.

پنځم. په افغانستان کې دایمي بې ثباتي او بې امنیتي د امریکې متحده ایالاتو ته د دې شرایط برابروي چې پرته له زیاتو مالي لگښتونو د چین ، هند او ایران په سرحدونو کې گډوډي رامنځته کړي ، د پاکستان او مرکزي اسیا په هیوادونو کې سیاسي، اقتصادي ، امنیتي حالات په دایمي توگه ناقراره وساتي او د دې گډوډیو او ناکراریو پواسطه روسیه د دایمي خطر سره مخامخ کړي.

شپږم. افغانستان دنړۍ په کچه د مخدره موادو دستر تولیدوونکي هیواد په توگه د پیسو او سیاست د نړیوالو کنټرولونکو ډلو ټپلو دکار او فعالیت لپاره د مخدره موادو د خرڅلاو له لارې ما دي او ما لي امکانات جوړوي او له دې لارې په ټوله نړۍ کې د مختلفو رنگه انقلابونو ، دولتي کود تا گانو ، تروریستي او بنیادگرو سازمانونو د رامنځته کېدو شرایط برابروي.

د امریکا متحده ایا لات له افغانستان څخه د ډیر واټن په درلودلو د افغاني مخدره موادو او هیروئینوله خطر څخه لیرې ده او د ناکراریو ، د مخدره موادو ، تروریزم ، دمخدره موادو پورې تړلې اقتصادي سیستم او په دولتي ادارو کې د مخدره موادو دمافیا دپراخ لاس لرلو ، اداري فساد ، رشوت ، له دولتي مقامونو څخه ناوړه استفادو د منفي اغیزو ټول بار او مسؤلیت د افغانستان او دهغه د گاونډي هیوادو په سر پروت دی او دا خبره هم په مستقیم ډول د روسیې دولت ته تا وان رسوي او هم د روسیې او د منځنۍ اسیا دهیوادو تر منځ دوستانه اړیکې زیانمنې کوي.

اووم. په اخر کې دروسیې وطن پا لونکي پدې تمه او انتظار دي چې د امریکې متحده ایالات او ناټو هیوادونه په افغانستان کې له ناکامۍ سره مخامخ دي ، دوی نه پوهیږي او یا نه غواړي چې په ځینې عواملو ځانونه پوه کړي چې په افغانستان کې د نامعلومو نورمونو او نا معلوم وخته پورې د تروریزم پر وړاندې عملیات د ناټو لپاره د سیاسي-پوځي سازمان په توگه په 2001- 2002 کلونو کې د دغه سازمان د بحران په شرایطو کې دسیا سي ژوندي پا تې کېدو مانا درلوده .

په افغانستان کې دامریکې متحده ایالاتو او نا ټو د ناکامۍ امیدونه بې مورده او غیر مسلکي دي ،خو د روسیې لپاره په افغانستان او سیمه کې د امریکې متحده ایالاتو او نا ټو دایمي پاتې کېدل لاندې څرگندې پایلې لري:



КОНТУРЫ НОВОГО СРЕДНЕГО ВОСТОКА

لومړی.امریکې وکولای شو چې د پخواني شوروي اتحاد د منځنۍ اسیا هیوادونو پوځي سیستم او نظامي تاسیساتو ته لاره پیدا کړي. دوی ته شرایط برابر شو چې د منځنۍ اسیا دهیوادونو پوځي هوایي ډگرونه په امریکایي نورمونو او ستندرد سره مدرن کړي، دسیمې خصوصیات مطالعه او په عملي ډول تري گټه واخلي او د ټولې ایروایشیا په فضایي قلمرو خپل کنټرول ټینگ کړي.

دوهم - په هغو پوځي هوایي ډگرونو کې چې دوی په کرایه نیولي دي د پوځي وسایلو په خپرولو سره کولای شي چې د روسیې ټول سترا تیژیکي هدفونه د خپل کنټرول لاندې راولي.

د امریکې دهوایي پوځ د کشف په ساحه کې د روسیې د اورال او سایبیریا ټول اقتصا دي او نظامي هدفونه راتلای شي.

پدې توگه پوځي افغانستان د روسیې لپاره همداسې خطر دی لکه څرنگه چې د امریکې لپاره په 1962 کال کې کیوبا ستر خطر و.

دریم- همدې ته ورته نور منفي فاکتونه نه یوازې د روسیې په دولت منفي اغیزې اچوي بلکې د قرغزستان د مناس د پوځي اډې څخه د چین په دننه کې ددې هیواد ستراتیژیکي - اقتصادي او ستراتیژیکي -پوځي مرکزونه او هدفونه د کنټرول لاندې راځي.

په جاپان ،جنوبي کوریا او د ارام سمندر په یو شمېر نورو هیوادو کې د امریکې دپوځي قواو د موجودیت سره سره په مرکزي اسیا کې د اډو زیاتېدل د دې شرایط برابروي چې امریکا وکولای شي هم د وچې او هم د ارام او د هند دسمندرونو له لارې د اسیایي هیوادونو په اساسي ستراتیژیکي هد فونو خپل کنټرول ټینگ کړي.

د مرکزي اسیا په هیوادونو کې د امریکې د متحده ایالاتو پوځي اډې په جنوبي کوریا او جاپان کې دامریکې دمتحده ایالاتو پوځي قواو په مرسته لږ تر لږه د روسیې، چین ، ایران ،پاکستان اوهند د دولتونو په وړاندې د جیوپولیټیکي او پوځي حالاتو د ګرمېدو په وخت کې دهغه هېواد نظامي فشار تامین کړي.

برسېره پر دې د امریکې متحده ایالات کولای شي دخپل پوځي موجودیت څخه په منطقه کې د هیوادونو ترمینځ د مختلفو اختلافونو څخه داستفادې لپاره د ځنیو سازمانو او ډلو ټپلو څخه حمایه ،او د دوی پواسطه د سیمې د هیوادونو پر حکومتونو باندې د فشار دوسیلې په توګه کار واخلي.

په واقعیت کې د اوږدې مودې لپاره د بهرنیو هیوادونو وسله وال ځواکونه په منطقه کې د موجوده قواو توازن برهم اود سیمې دهیوادونو لپاره اساسي او بنیادي خطر رامنځته کوي.

د دې حالاتو لپاره د سیمې هیوادونه باید راوبښ ، نږدې او یو موټی شي چې د بهرنیو هیوادونو دپوځي قواو پرځای دسیمې دمملکتونو ترمینځ د قواو توازن برقرار شي.

له همدې کبله باید په عاجل ډول په افغانستان کې دبهرنیو پوځي قواو د موجودیت هد فونه ،دندې او وخت تر بحث اوڅېړنې لاندې ونیول شي . د افغانستان په خاوره کې د بهرنیو قواود موجودیت میعاد د نړیوالې ټولنې او د افغانستان د مشرتابه او پارلمان په ګډون باید تنظیم شي.

## د افغانستان د پرمختګ لپاره کمپلکس پلان

ترڅو چې د افغانستان د خلکو ژوند په اساسي توګه په پښو ونه دریږي د واحد ،خپلواک او قوي افغانستان را منځته کېدل نا شونی دی.

پداسې حالت کې چې په افغانستان کې د خلکو د بې کارۍ کچه 80% ته رسیږي د وګړو د ژوند دمصارفو له نیمایي څخه زیاته برخه د مخدره موادو په تولید او صادراتو پورې تړلې ده، د نړیوالې ټولنې او د دولت د مشرتابه اساسي دنده ده چې د وګړو د عادي ژوند د تامین ابتدایي موسسات په پښو ودروي تر څو د هېواد هر اوسېدونکی هره ورځ حد اقل یو کېلوواټ في ساعت د برېښنا انرژي ، درې لیتره د څښلو اوبه او لس لیتره تخنیکي اوبه اونور لومړنې ضروتونه تامین کړي.

هغه څه چې تر اوسه پورې د افغانستان د( پرمختګ پلان ) په نامه پیشنهاد شوي دي ټول په دغه اساسي نیمګړتیا اخته دي چې ستراتیژیکه طرحه نه لري . دغه پلانونه اکثره د افغانستان سره د نوروهېوادونو بلاعوضه مرستونه وقف شوي او پر هغو متکي دي چې د هېواد د اقتصادي استقلال او اقتصادي خود کفایی انتظار ورڅخه نه شي کېدای . افغانستان ته په نوو پرنسیپونو او طریقو د اقتصادي پرمختګ یو کمپلکس پلان ضرور دی.

د خلکو د ژوند دلومړنیو ضرورتونو د عاجل تامین موثر میتود ایجابوي چې د تولید د لومړنیو وسایلو د جوړښت صنعت ته عاجل اقدام وشي. د فزیکي کار نسبتاً موثر وسایل په کار واچول شي ، د ژوند د لومړنیو ضروریاتو تولید پلانیزه شي او ددغه پلان په تطبیق کې د علومو پر عملي اړخ ډیره تکیه وشي.

د نننی حا لت څخه راوتل د ژوند دتامین د کومکي ستراتیژیکو تاسیساتو له جوړښت او په پراخه سطحه د تولید د قواو له تشکل نه پرته امکان نه لري . د تولید ددغه قواو تر څنګ به دنوروهېوادو په مرسته په هېواد کې د پرمختیایي زده کړو ، په پرکټیک متکي اساسي علومو او پر مخ تللي صنعت اساسات کښېښودل شي.

دافغانستان داقتصادي پرمختګ لپاره تر ټولو لومړنی د انرژۍ د منابعو او په ځانګړې ډول د برقي انرژۍ تامینول ضروري عنصر دی ځکه د برق انرژي له یوې خوا د دغه هیواد په صنعتي انکشاف او له بلې خوا د خلکو د ژوند د سطحې په لوړولو کې ټاکونکی رول لوبوي.

د افغانستان د برق دانرژۍ دپوره کولو لپاره دولتي پلان ته ضرورت دی، لکه د شلمې پېړۍ په پیل کې چې د روسیې دبرقي انرژۍ د تامین پلان عملي شو اوله مخې یې د روسیې او پخواني شوروي اتحاد صنعت د پرمختیا چټک ګامونه پورته کړل.

په دې ترځ کې دافغانستان دکندوز،کوکچې،کابل ،هلمند او هریرود پر سیندونو د برق بندونوجوړول او همدا رنګه له تاجیکستان ، ترکمنستان او ازبکستان څخه افغانستان ته د برق غزول شوو لینونو عصري سمبالتیا اساسي ضرورت برېښي.

په افغانستان کې د څښاک او تخنیکي اوبو د تامین مسئله یو بل مشکل دی چې په حل پورې یې د هغو پرابلمونو حل تړلی دی چې په دغه هېوادکې د نفوسو د شمېر د زیا تیدو او د زراعتي محصولاتو د تولید د کمښت له شامته رامنځته شوي دي.




د ایران له مشهد څخه د افغانستان د هرات – قندهار له لارې د پاکستان تر کویټې پورې د اورګاډي یو خط چې افغانستا ن به د اورګاډي د نړیوالې شبکې سره وتړي له ستراتیژیکو دندو څخه شمېرل کیږي . که د اور ګاډي د خط د دې شبکې په پروژه کې د افغانستان برخې ته د یو دهلېز په توګه ځانګړې پاملرنه وشي باور دی چې له دې لارې به دکالیو په وړلو راوړلو کې ډیرې اسانتیاوې رامنځته شي او افغانستان به د یو غښتلي هېواد په توګه د اقتصادي استقلال خاوند شي چې د نور انکشاف غمخوري به په خپله غاړه واخلي.

غوره به وي چې د افغانستان د اقتصاد د بیا رغونې او پرمختیا کمپلکس پلان په کابل کې ( د افغانستا ن د سولې او سمسورتیا کنفرانس) کې تصویب شي.

## د پرمختیا صدور

دافغانستان او د هغه شا اوخوا حالا تو په نظر کې نیولو سره روسیې ته دا امکانا ت په لاس ورځي چې نه یوازې د افغانستا ن په هکله بلکې د خپل ټول بهرني سیاست نوي پرنسیپونه وټاکي. روسیه نور باید د ورستیو شلو کلونو د ناسیونالیستي دکتورینو څخه راووځي او د نړیوال زبرځواک په توګه دخپل موجودیت څخه په نړیواله کچه د پرابلمونو دحل په وړاندې په مسؤلیت برخورد وکړي.

روسیه تل موجوده وه او د نړۍ د ستر هیواد په توګه باید تل له خپل غوځ دریځ سره د نړیوالو پرابلمونو د مطرح کولو او حل توان ولري.

لکه څنګه چې د دموکراسۍ صادرولو نړیواله غلبه موندلې ده روسیه دې د نړیوال زبرځواک په توګه د خپلو دکترینو دپلي کولو لپاره د دموکراسۍ د صدور پر ځای د انکشاف او پرمختیا صدور عملي کړي. په دې مانا چې د ژوند په مختلفو ساحو کې هېوادونو او سیمو ته د انکشاف او پرمختیا نوي میتودونه او تکنالوژۍ انتقال کړي. یوازې د انکشاف په صدور او انتقال سره روسیه کولای شي د خپلې ترقۍ تر څنګ متمدنو سیاسي او اقتصادي چلنجونو ته ځواب ووایي.

اوس ثابته شوې ده چې د دموکراسۍ صدور او پر ټولنو باندې په زور د هغې تعمیل ناوړه او بې ثمره کار دی . برسېره پردې څرګنده شوه چې د دموکراسۍ له صدور سره مالي او اقتصادي بحران هم صادرېږي چې وسله والې نښتې، کړکېچونه، نارامۍ او ګډوډۍ ورسره تړلې دي.

روسیه ډېره ښه موقع په لاس کې لري چې د عنعنې په څېر د نورو هیوادونو د اقتصادي پرمختګ د فعال فکتور رول د خپل بهرني سیاست د اساسي پرنسیپ په حیث انتخاب کړي.

په تاسف سره باید وویل شي چې له یوې مخې د شوروي اتحاد ماضي د ښو او بدو بې دلیله غندنې او په مصنوعي ډول د روسیې د امپراطورۍ پړسېدلې ترسیم په عامه ذهنیت کې د تاریخي روسیې نړیوال مقام او اعتبار د نشت درجې ته را ټیټ کړی دی . هغه مقام او اعتبار چې د نورو ملتونو د ترقۍ سره مخلصانه علاقه مندۍ ، د نورو هېوادونو د انکشاف د محرکو اسبابو ورکړې او د هغوی سره علمي- روزنیزو او تخنیکي مرستو تاریخي روسیې ته په لاس ورکړی و .

نن ضرور ده چې نه یوازې دا تاریخي حقانیت احیا شي ، بلکې د روسیې د تاریخي ماضي میراث باید د ولسونو سره د ګډ او متوازي پرمختګ په پرنسیپ د انکشاف د صدور او مقابل لوري ته د پرمختیا د اسبابو د هدفمند انتقال لوری ووهي ، داسې اسباب چې هېوادونو او ولسونو ته د ترقۍ په لور د چټکو ګامونو امکانات برابر کړي.

د دموکراسۍ د صدور پر خلاف چې کله کله پر هېوادونو په زور تحمیلیږي او د هغوی د ټولنې د عنعنوي موسساتو د طرز تفکر سره ټکر کوي ، د پرمختیا د صادرولو ماهیت په هېوادونو کې د تولید دقواو په بنسټ ایښودنه کې پروت دی چې لاندې درې عناصر یې اساسي برخې جوړوي:

- پرمختیایي ښوونه او روزنه ،
- په عملي اړخ متکي مسلکي علوم،
- اود پرمختللې نوې تکنالوژۍ صنعت.

په روانو حالاتو کې به د افغانستان سره د روسیې د مناسباتو غټ ټکی دا وي چې په افغانستان کې په پراخه سطحه د تولید داسې قواوې رامنځته کړي چې د مشخصو تولیدي اهدافو ځواب ووایي. د روسیې د سیاسي مشر تابه له خوا د دغسې یو تصمیم د نیولو مقدمات اومساعد شرایط موجود دي. په ځانګړي ډول په استانه کې د شانګهای د ګډو همکاریو د سازمان دحکومتونو د مشرانو د 2008 کال د اکتوبر په غونډه کې د روسیې د صدراعظم ولادیمیر پوتین وینا د دغو شرایطو د پخلي شاهدي ورکوي.

د پرمختیا محتوا او ماډلونه د سیالۍ مضمون جوړوي. د ټولو ګډې همکارۍ ته ضرورت دی چې ژرتر ژره د نړیوال او منطقوي امنیت او پرمختیا ساختمان نوی شي ، داسې چې د یوویشتمې پېړۍ د واقعیتونو سره سمون ولري او هلته سوله ، ثبات او سمسورتیا یو له بل سره تړلي مفاهیم وي.

روسیه غښتلي، با ثباته او دوست هیواد افغانستان ته ضرورت لري ، ځکه نو ډېره ممکنه ده چې افغانستان ته د پرمختیا د صدور پر بنیاد د روسیې تصمیم د دغه هیواد د داخلي ستونزو د حل کلي شي.

افغانستان ته د پرمختیا صادرات نه یوازې دغه هیواد ته بلکې د منځنۍ اسیا ټولو هیوادونو ته سوله او امنیت راولي ، د روسیې او منځنۍ اسیا د هیوادونو تر منځ سیا سي او اقتصادي اړیکې ټینګوي او هم د نړۍ د نورو سترو هیوادونو کړنلارو ته ښه مثال جوړېدای شي.

په دې لار کې د لومړي قدم په توګه روسیه کولای شي چې افغانستان او نورو ذیعلاقه هېوادونو ته د افغانستان د پرمختګ کمپلکس پلان وړاندې کړي او د دغه پلان د سازمان ورکولو لومړني لګښتونه په خپله غاړه واخلي.

## د افغانستان د پرمختیایي پلان پروژه

په افغانستان کې د دوامداره او پرلپسې جګړو له اساسي لاملونو څخه یو دا دی چې د خلکو د ژوند سطحه ډېره ټیټه ده او اقتصادي شرایط یې د ژوند دلومړنیو ضروریاتو تقاضا نه شي ور پوره کولای. د ژوند د اقتصادي پروژو د نشتوالي له کبله ډېرو خلکو د خپلو کورنیو د اعاشې لپاره جنګ ته لاس اچولی دی .ځکه نو په دغه هېواد کې د جنګونو د ختمولو او د سولې د ټینګښت لپاره تر هر څه دمخه د اقتصادي او اجتماعي پرابلمونو حل لومړیتوب لري.

د افغانستان د اقتصاد د بیا رغونې لپاره د پرمختګ کمپلکس پلان ته ضرورت دی ، د دې پلان پلي کول د ټولو افغانانو منسجم او ګډ کار غواړي.

په افغانستان کې په عنعنوي ډول د خلکو ژوند کلیوالي اود کا ر اسا س کرهڼه او مالداري جوړوي . د دغه هېواد دپرمختیا سیستم دې دغه کمیابه شتمني وساتي او په انکشاف کې دې تر ډیره حده پر هغې تکیه وشي. په همدغو دلایلو پر مختللې او نمونوي منسجمه کرهڼه اومالداري باید د افغانستان د اقتصاد بنیاد جوړ کړي.

هغه بزګر چې په ډاډه زړه خپلې مطمئنې راتلونکې ته انتظار باسي،د خپلې مسلکي پوهې او رښتیني زحمت له برکته د حلالې ډوډۍ او ابرومند ژوند خاوند وي بې له شکه کېدای شي لس کاله وروسته د پرمختللي افغانستان د ویاړ سمبول وي.

د افغانستان د زراعت د پرمختیا پروګرام باید نه یوازې د زراعتي محصولاتو د کښت او تولید زیاتوالي ته پاملرنه ورکړي، بلکې د زراعتي محصولاتو د ساتنې اوراتلونکې استفادې لپا ره صنعتي پروژو ته هم پاملرنه وکړي.

د افغانستان د جنوبي ولایتونو میوې خاص شهرت لري ، ځکه نو د هغوی لپاره د میوو د فارمونو پرمختیا ، پراختیا او مېکانیزه کول ډېر ارزښت لري.

د دېرش کلنې جګړې په موده کې د افغانستان د زراعت اومالدارۍ کلتور ته ډېر تاوا ن رسېدلی دی ، هغوی چې په جګړې کې زېږېدلي او ستر شوي دي د ځمکې د کرکیلې په کار نه پوهیږي . له دې کبله د ټول هېواد په کچه د بزګرانو د روزنې د مستعجلو کورسونو ، تخنیکومونو او کالجونو جوړول یو له اساسي کارو څخه شمېرل کیږي . د دغو موسسو د فارغینو باید د مؤثر زراعت کاري میتودونه زده وي . د بزګرانو د تعلیم دغه موسسات باید د ټول هېواد په کچه ښه پرستیژ ولري او فارغان یې د ټولنې محترم خلک وي ځکه د خپلو هېوادوالو د نېکمرغۍ لپاره تر ټولو مشکل خو ابرومن کار ته

لاس اچوي. اوخلکو کې دلوړي اتوریتې او اعتبار خاوندان اوسي لدې کبله چې دوی خپلو خلکو او ټولنې ته خدمت کوي.

په افغانستان کې د پر مختللي او موثر زراعت د سازماندهۍ لپاره با کیفیته زراعتي ماشین الاتو ته ډېر ضرورت دی، ځکه نو د افغانستان په اړوند د هر نړیوال کنفرانس او غونډې اساسي مضمون باید افغانستان ته د زراعتي ماشین الاتو او تخنیک لېږدول، د هغې ترمیم او افغانانو ته د هغې ورزده کولو موضوع وي.

نړیواله ټولنه او مرستندویه هیوادونه باید په لومړي گام کې له افغانستان سره د عصري او پرمختللي زراعتي تخنیک، ماشین الاتو، مسلکي کادرونو په روزنه او بازار ته د تولید شویو زراعتي محصولاتو د موثر او پر وخت عرضه کولو په چارو کې مرستې وکړي، نه هغه تش په نامه نقدي مرستې چې مستحق ادرس ته نه رسیږي او اساسي برخه یې بیرته د NGO مینځگړو سازمانو، ادارو او یا نورو دلالانو جیبونو ته اچول کیږي.

د افغانستان د پرمختیایې پروژو کارونه ښایې په پیل کې د نمونې په توگه په یوه یا څو ولایاتو کې د تجربې لپاره په نظر کې ونیول شي، د بریالۍ تجربې په نتیجه کې کېدای شي د راتلونکي لپاره په نورو ولایتونو کې ترې گټه واخیستل شي. د کار پروژې باید د یو کمپلکس په شکل په نظر کې ونیول شي چې کرهڼه، مالداري، ماشین الات، سپک زراعتي صنعت، دبرق انرژي، د لارو جوړول، د اوبو رسولو پروژې او بالاخره بازار ته د محصولاتو د عرضه کولو امکانات احتوا کوي.

ددې پلان د عملي پروگرام په لومړۍ مرحله کې کېدای شي د ننگرهار او هلمند ولایتونه کې پکار واچول شي.

### د ننگرهار ولایت د پرمختیا پروژه:

۱. د جلال اباد د اوبو لگولو د کانال بیارغونه.

۲. د کابل په سیند د برق د جوړوشوو بندونو (سروبي، نغلواو درونټه) بیارغونه او دنوو بندونو سروې.

۳. په ننگرهارکې د گنیو د فارمونو او د بورې د فابریکې جوړېدل.

۴. دجلال اباد دکانال د زیتونود فارمونو بیارغونه او د زیتونو د غوړیو د فابریکې جوړول.

۵. په ننگرهار کې د گلانو (گلاب) د فارمونو او عطرونو دفابریکې جوړول.

۶. د سبزیجاتو د کانسرو د جوړولودفابریکې د کمپلکس بیارغونه او سمبالول.

۷. د جلال اباد د کانال د پروژې د ستروس (مالټو، نارنجانو، لیموگانو) د فارموبیارغونه.

### د هلمند ولایت د پرمختیا پروژه :

۱. په هلمند ولایت کې د انارو د فارمونواو دانارو د شربت د جوړولوفابریکه.

د افغانستان انار د افریقا له انارو څخه لوړ کیفیت لري، له همدې کبله کېدای شي چې دغه پلان د افغانستان د جنوبي ولایتویاتو لپاره کامیابه راتلونکې ولري.

۲. د هلمند په ولایت کې د لمرگلي د فارمونو او له هغې څخه د غوړیود ایستلو د فابریکې جوړول. همدا طرحه کېدای شي چې په بدخشان ولایت کې هم عملي شي.

۳. په هلمند ولایت کې د زعفرانو دفارمونو جوړول، په نړیواله کچه د یو کیلوگرام بیه تر ( 2500 ) امریکایي ډالرو ته رسیږي او تقاضا یې هم زیاته ده کېدای شي دغه طرحه او پلان ډېر گټور تمام شي.

۴. په هلمند ولایت کې د سرو (بلغاریا یي) مرچو د فارمونو جوړول.

۵. د وچو میوو د ساتلو لپاره مخصوصو وسایلو جوړولو سازماندهي.

۶. د پنبې د کرلو او د ټوکرانواو کالیو جوړولو لپاره د فابریکو سازماندهي.

۷. د سبزیجاتو او میوو د ساتلو لپاره د فابریکو جوړول او د یخچالونو پېرودل.

د هلمند ولایت د پر مختیا پلان کېدای شي چې په نورو جنوبي ولایتونو لکه ارزگان او کندهار هم پلی شي.

په مجموع کې دهر ولایت لپاره د جلا جلا پرمختیایي پروژو پلان باید طرح شي چې د ولایت له شرایطو سره سمون ولري او خلکو ته د کار او عوایدو زمینې برابرې کړي. مثلاً: په بغلان ولایت کې د لبلبو دکروندو او د لبلبو څخه د بورې جوړولود یوې فابریکې پروژه باید جوړه شي. افغانستان په کال کې ( 800 000 ) ټنه بوره مصرفوي، اود بورې تولید ته زیات ضرورت دی.

دغسې پروژې او پلانونه د هیواد د ولایتونو په اقتصادي پرمختگ کې ډېر موثر دي او په زرگونو خلکو ته د کار او عاید زمینه مساعدوي.

ضرور ده چې په افغانستان کې د نفتو او گازو د سروې او استخراج لپاره د هېواد په کچه د نفتواوگازو ملي کمپنۍ جوړه شي چې د لوگراو پکتیکا په ولایتونوکې د نفتو د رایستلو څېړنه وکړي، په همدې ډول د سرپل په ولایت کې دگاز د استخراج او داسې نورو ځایونو څېړنې وکړي.

په افغانستان کې د طبیعي گاز کافي ذخیرې موجودې دي چې د هېواد دننه لگښت لپاره کفایت کوي، د دغه گاز په استخراج باید کار پیل شي. د گاز په استحراج، تصفیه او انتقال کې د روسیې د (گازپروم) کمپنۍ د افغانستان سره دگډ کار پارتنر او همکار جوړېدای شي.

د افغانستان دولت ته په کار ده چې د سرو زرو په هغو څلور سترو معدنونو باندې جدي دولتي کنترول تامین کړي چې همدا اوسمهال د غلو او داړه مارو له خوا د چور په حالت کې دي.

ضرور ده د یو جلا پلان له مخې د صنعتي موسسو دبیا رغونې کار پیل شي لکه د سیمنټو فابریکه، د ټوکر ونواو کالیو جوړولو کارخانې، د مزارشریف د سرې او برېښنا فابریکه، دکابل جنگلک فابریکه او داسې نورې. د دې کار لپاره ضرور ده چې د ازاد بازار له موډل څخه صرف نظر وشي. د ملي پانگه والو او صنعت کارانو یو قشر تشکیل او تشویق شي. په دولتي سکتور کې د هغو کارخانو بیا رغونه او مدرنول په ضرورتونوکې شمېرل کیږي چې د پخواني شوروي اتحاد لخوا په افغانستان کې جوړې شوې وې.

د افغانستان د پرمختیا پروژې یوازې په اقتصادي حدودو کې نه شي خلاصه کېدای اود دې تر څنگ ددغه هېواد ټولنیزه ـ کلتوري پرمختیا ډېره پاملرنه غواړي. په ځانگړي ډول د افغانستان د ښوونځیو د فارغانو لپاره د لوړو زده کړو مسئله یو مشکل دی چې حل غواړي. د افغانستان په ښوونځیو کې اوس پنځه میلیونه کوچنیان زده کړې کوي. دغه ښوونځي هر کال نږدې 300 ـ 450 زره فارغان ورکوي. د افغانستان پوهنتونونه له دې جملې څخه یوازې شاوخوا 15 زره تنه منلای شي، له دې کبله هرکال د ښونځیو د فارغینو او د پوهنتونونو د شاملینو په شمېر کې واټن زیاتیږي. ضروري ده چې په راتلونکو لسو کلونو کې د هېواد پوهنتونونو ته د شاملینو کلنی شمېر تر 60000 پورې ورسیږي او د محصلینو مجموعي شمېر له 45000 څخه تر 250000 پورې پورته شي. ددې لپاره باید په افغانستان کې د لوړو زده کړو د پرمختیا او پراختیا په نوم نړیوال کنفرانس را وبلل شي.

د افغانستان په پرمختیایي پروژو کې د روسیې ونډه په لومړۍ مرحله کې کېدای شي په بشري او ټولنیزو- کلتوري برخو کې ډېره عملي وي. د مثال په ډول:

۱. د افغانستان په (ننگرهار، هلمند، بلخ، بدخشان او بامیانو) ولایتونوکې د پینځو ښونځیو جوړول.

۲. په همدغو ولايتونو کې د مور او ماشوم د پېنځو روغتیایي مرکزونو جوړول چې د حامله ګۍ په وخت کې ، له نوو زېږېدلو ماشومانو سره صحي او طبي مرستې وشي او د تنکو ماشومانو د مرګ ومیر مخنیوی وشي.

۳. د کابل پوهنتون د روسي ژبې د دپارتمنت په تشکیل کې د( افغانستان ا و روسیې ) د علمي ـ تحقیقاتي مرکزجوړول.

۴. د کابل د پولیتخنیک پوهنتون بیارغونه.

۵. په جلال ابا د کې روسي کالج جوړول.

## د پرمختیا لپاره د ګاونډیانو همکاري

په افغانستان کې د سولې د ټینګښت میزان په دوو مسئلو پورې اړه لري:

لومړی ـ افغانستان باید د جیوپولیتیکو پروژو د تطبیق لپاره د پولیګون په توګه استعمال نه شي. ددې لپاره له افغانستان څخه د بهرنیو قواو د وتلو مهال ویش باید وټاکل شي او د هر ډول نړیوال یا منطقوي ځواک په اقداماتو دې بندیز ولګول شي چې غواړي دافغانستان د مشکل په نامه خپل اهداف پلي کړي.

دوهم ـ په افغانستان کې د ثبات او پرمختیا لوی پوټنشیال د ګاونډیو هیوادو په واحده او ګډه ستراتیژۍ کې نغښتی دی. که چېرې د افغانستان ګاونډي هیوادونه په متحد ځواک په دغه هېواد کې د سولې اوامنیت لپاره عمل وکړي ډېر ژر به سوله او ثبات نه یوازې په افغانستان بلکې د ( نوي منځنۍ ختیځ ) په ټوله سیمه کې رامنځته شي.

له همدې کبله په کابل کې د (افغانستان د سولې او سمسورتیا ) په نړیوال کنفرانس کې باید دافغانستان ګاونډي هیوادونه ( پاکستان ، ایران، روسیه، چین، هندوستان ، تاجیکستان ، ازبکستان، ترکمنستان او قرغزستان) پراخ ګډون ولري او په افغانستان کې د سولې او ثبات د لارو چارو په لټولو او تصامیمو کې ورشریک شي.




له ګاونډي هېوادونو سره متقابله همکاري د افغانستان د پرمختګ لپاره ضروري خبره ده . په ځانګړي ډول د (مشهد) ایران ، (هرات ـ قندهار) افغانستان او ( کویټې ) پاکستان د اور ګاډي خط د افغانستان د ترانزیت لپاره د پرمختیا ګټوره لار ده او دغه لار یوازې د پاکستان او ایران په همکارۍ او د نړیوال تنظیمونکي په حیث د روسیې په فعاله مرسته جوړېدای شي.

افغانستان ته له ګاونډي هېوادونو سره همکاري د دې لپاره هم ډېره ضروري ده چې نه یوازې ځان د یو واحد ،خپلواک او د اغیزمن اقتصاد لرونکي دولت په توګه تثبیت کړي چې کولای شي ګاونډیانو ته د تروریزم، بې ثباتۍ او مخدراتو د انتقال مخه ونیسي، بلکې د سیمې دژر ابادېدونکي او صنعتي کېدونکي هېواد په توګه ښه نمونه شي.

ګاونډي هیوادونو ته پکار ده چې پدې برخه کې د افغانستان سره مرستې وکړي چې د نوي منځني ختیځ په پراخه سیمه کې د سولې، امنیت او دوستۍ په سیمه بدله شي . له همدې کبله افغانستان ته باید د مرکزي هستې په توګه د بې طرفۍ موقف تضمین شي . پېشنهاد کیږي چې د دې مسئلې حل ته د افغانستان د سولې او سمسورتیا په نړیوال کنفرانس کې چې د نوي منځني ختیځ ټول هیوادونه به پکې ګډون کوي د اساسي موضوع په توګه په اجندا کې ځای ولري.

## د شانګهای د همکارۍ سازمان رول

د افغانستان د پرابلمونو حل د شانګهای د همکارۍ د سازمان په چوکاټ کې دګاونډي هیوادونو د ژورې ستراتیژیکې همکارۍ په نتیجه کې ډېر عملي برېښي ،ځکه دغه سازمان اوس د (اروپا اسیا ) د پراخې سیمې د ډېرو کلیدي ستونزو د حل د مرجع په توګه پېژندل شوی دی.

تر ټولو مهمه او اساسي خبره دا ده چې د شانګهای دهمکارۍ سازمان ټول غړي او نظارت کونکي هیوادونه د افغانستان ګاونډي هیوادونه دي، له همدې کبله د شانګهای دهمکارۍ سازمان غړي هېوادونه د ګډې ستراتیژۍ ،پلان او سیاست په درلودلو سره د واحد ،خپلواک او قوي افغانستان د رامنځته کېدو لپاره لارې چارې برابرولای شي.

د افغانستان د اقتصادي ، کلتوري ، فرهنګي او بشري ساحو د پرمختیا او بیارغونې د اوږدې مودې پلانونو او طرحو په پلي کولو کې د نړیوالې ټولنې د سرمایه ګذارۍ په برخه کې د شانګهای د همکارۍ سازمان دتضمین کونکي رول لوبولای شي.

ګټوره خبره ده چې د شانګهای د همکارۍ دسازمان لخوا د افغانستان دپرمختګ او بیارغونې د کمپلکس پلان د پلي کولو لپاره د مالي منابعو د تجمع فونډ جوړشي.

د افغانستان د ستونزو د حل مسئله باید د شانګهای دهمکارۍسازمان د غړو هېوادو له خوا په غور وڅېړل شي او په جدي ډول نړیوالې ټولنې ته وړاندې شي . دا خبره کېدای شي د شانګهای دهمکارۍ سازمان د غړو هېوادو د مشرانو په راتلونکې غونډه کې چې د **2009** کال په اوړي کې به د روسیې په ایکترینبورګ کې جوړه شي د اجندا د اساسي مسئلې په توګه مطرح شي.

## د روسیې او پښتنو ډیالوګ

له فعال ژوند سره د پښتنو د مینې او رغبت په برکت په ورستیو دېرشو کلونو کې دوی د نړۍ د فعالو ولسونو په ښه منزلت کې دربدلي دي ، هغوی چې غواړي د نړیوالو پرابلمونو په حل کې برخه واخلي . له همدې کبله پښتانه د نړۍ له نورو ولسونو سره خپلې اړیکې تامینوي او له نړیوالو سره د مفاهمې پوره لیوال دي .د نړیوالو ژوندیو اړیکو سره د پښتنو علاقه مندي د نړۍ نور ولسونه دې ته هڅوي چې د دغه ولس راتلونکي ته په نړیواله کچه د اهمیت په سترګه وګوري.

په روسیه کې له **150** څخه ډېر بېلابېل ولسونه او قامونه ژوند کوي، او روسیه د دغو ولسونو د ګډ سوله ییز ژوند غني تجربه لري، ښه موقع ده چې روسیه د دغوتجربو څخه په ګټه اخیستنې مخامخ له پښتنو سره خپل ډیالوګ او اړیکې ټینګې کړي او لدې لارې د افغا نستان د کشالې په حل کې خپله ونډه واخلي.

روسيې ته په کار ده چې دغه پروسه له صفر څخه پيل کړي. دغه پروسه به د دواړو هېوادونو تر منځ د پارلماني پلاوو، د علمي او فرهنګي نهادونود استازو په تګ راتګ، فعاله ولسي ډيپلوماسۍ، د ولايتونو او ښارونو تر منځ د اړيکو په تامين، په روسيه کې د پښتو ژبې زده کړې او په پښتو ژبه د کتابونود چاپ او نشر او نورو دې ته ورته اقداماتو متکي وي.

د پښتنو هغه سياسي ـ ټولنيز او کلتوري ـ انتروپولوژيک تشکيلات هم په دې لار کې د وړاندې تګ ډېر ارزښتمن امکانات په لاس راکوي چې تر اوسه پورې په عنعنه پالنه ولاړ دي او د ډېرو سياسيونو او محققينو په نظر منسوخ بلل کېږي او داعنعنه پالنه د هغوی په تعبير په مستقيم ډول د دې مانا لري چې پښتون وروسته پاتې ولس دی او د پرمختګ استعداد نه لري.

د پښتنو د عنعنه پالنې دا ډول تعبير ژوره اشتباده، ځکه چې عنعنه پالنه يوازې د عصريت د فکتور او يا د مدرنيت نشتوالی نه دی، بلکې په ځان کې د ډېرو عالي ارزښتونو سترې زېرمې هم لري.

په دې ډول د پښتنو د ټولنيز ژوند قانون (پښتونولي) چې د پښتنو لپاره بنيادي ارزښت لري، د عنعنه پالنې يوه ډېره باارزښته خزانه ده او دلرغون پېژندنې له نظره د قانون جوړونې ډېر عالي شکل بلل کېږي او د افغانانو د ټولنيز ژوند د ستنې په توګه يې معنوي ارزښت د افغاني ټولنې لپاره لاهم مخ په زياتېدو دی.

صرف د عصريت د نه درلودلو له کبله د عادت له مخې عنعنه پالنې ته د يوې منفي او منسوخې پديدې په نظر کتل کېږي، په داسې حال کې چې دا ډېره سطحي نظريه ده چې د تېرې پېړۍ په سر کې د انتروپولوژۍ (وګړپېژندنې) د ځينو مکاتبو له خوا طرح شوې ده او له همدې کبله اوس زړه بلل کيږي.

عنعنه پالنه د دولت جوړونې خنډ نه ده بلکې په تاريخي لحاظ هم په طبيعي ډول د دولتونو د جوړښت د پيل نقطه بلل کيږي.

دغه حالت په روسيه کې د دولت جوړونې د پروسې سره شباهت لري ځکه روسيې ته هم د عصري دولت جوړېدنې له دريځ څخه ورته سوالونه راجع کېږي.

د عصري دولت جوړونې تر ټولو څرګند دريځ چې د روسيې او افغانستان د ولسونو د قوي دولتونو د رامنځته کېدو سره نه جوړېدونکی دی، د انګلوـ ساکسون د جيوپاليسۍ د څېړونکو په تاليفاتو کې وړاندې شوی دی. په ځانګړي ډول د برتانيې د دفاع او بهرنيو چارو د وزارتود سلاکار روبرت کوپر **Robert Cooper** په (له عصريت وروسته دولتونه او نړيوال نظم) نومي کتاب کې يې ښه وضاحت موندلی دی.

**Cooper R., The postmodern State and the world order. London, 1996**

د کوپر په نظر موږ په داسې زمانه کې ژوند کوو چې درې ډوله دولتونه په يوه وخت کې شتون لري، له عصريته دمخه دولتونه، عصري يا مودرن دولتونه اوله عصريته وروسته دولتونه، چې دغه دولتونه په ترتيب سره درې نړۍ رامنځته کوي.

لومړۍ نړۍ تر عصريت دمخه هېوادونه تشکيلوي. دا هغه دولتونه دي چې نشي کولای هغه اجتماعي نظم تامين کړي چې په وروستيو 300 کلونو کې د ملي دولتونو په نوم عصري دولتونه ورباندې چليږي.

له عصر يته وروسته دولتونه د کوپر په تعريف هغه دي چېرې چې د کورنيو او بهرنيو چارو تر منځ توپير بايد له منځه ولاړ شي، هغه څه چې تر اوسه د دولتونو داخلي موضوعات بلل کېږي بايد دمتقابلې لاسوهنې او متقابل نظارت اجازه ولري او د لانجو په حل کې د قواو استعمال منع شي.

د کوپر په عقيده له عصريته وروسته **postmodern** دولتونو (په حقيقت کې غټو اوه ګونو يا **G7**) په ماحول کې دعصريت ترمخه **premodern** د دولتونو موجوديت په شرايطو کې دنړيوال ډاډمن نظم د تامين په خاطر دا اړينه ده چې نړيوال لارښوونکی اقتدار رامنځته شي.« د امپرياليزم نوی ډول چې د بشر دحقوقو او نورو کوسموپوليتيکو ارزښتونو سره اړخ ولګوي... دا امپرياليزم لکه د بل هر امپرياليزم په شان نړيوال نظم او تشکل منځته راولي خو په داوطلبانه پرنسيپونو به تکيه لري».

روښانه خبره ده چې يوازې د نړيوال لارښوونکي کنترول د تر لاسه کولو او نوي امپرياليزم لپاره دځانګړو هېوادو هيلې د عصري دولتونو د ستندرد او نمونې اساس جوړوي. مګر هم افغانستان او هم روسيه ټول امکانات په واک کې لري چې د نوي امپرياليزم دتشکل پشنهاد شوې لار ونه نيسي او دخپلو ولسونو دتاريخي عنعنو او تجربو پر بنسټ د دولتونو د جوړښت خپله لار ونيسي.

دلته د نيوتراډشناليزم لار خپل ټاکلی رول لوبولای شي. نيوتراډشناليزم د دولت جوړونې يوه تيوري ده چې روسي انتروپولوجست (وګړپوه) الکساندر پيکا وړاندې کړې ده او د هغې په اساس د عصريت او تمدن کمال ته دتاريخي او عنعنوي ميراثونو او کلتور سره د نوې تکنالوژۍ د محتاطانه تړاو له لارې رسېدل تر نورو موثر مېتود ګڼل کيږي.

پښتني نيوتراډشناليزم ټول امکانات په واک کې لري چې له مدرنيت نه پرته د نوي افغانستان د جوړولو محرکه قوه شي.

## په لوړه سطحه د روسيې او افغانستان تر منځ د همکارۍ اجندا

دافغانستان اسلامي جمهوريت ته د روسيې د جمهور رئيس سفر چې د دواړو هيوادونو مشرانو د 2008 کال د اګست په 29 نېټه په تاجيکستان کې موافقه کړې، کېدای شي د افغانستان د کشالې دحل لپاره تاريخي ارزښت ولري.

افغانستان ته د روسيې د مشر د سفر په موقع ډېره ګټوره بريښي چې افغانستان ته د دموکراسۍ د صدور پر ځای د پرمختيا د صدور ابتکاري دکتورين د هغه له خوا نړيوالو ته واورول شي. د دې تر څنګ دې روسيه د افغانستان د پرمختيا د کمپلکس پلان د طرحې وړانديز وکړي، او دا دې په ډاګه کړي چې د هغې دتطبيق مالي لګښتونه په غاړه اخلي. د روسيې جمهور رئيس همدا ډول کولای شي دافغانستان په کورنۍ جګړه کې دخيلې خواوې روغې جوړې ته راوبولي او په رسمي ډول په کابل کې د «افغانستان د سولې او سمسورتيا» د نړيوال کنفرانس د تدوير وړانديز وکړي.

## نتيجه ګيري

ستاسې مخې ته (( په افغانستان کې دسولې اوپخلاينې لار، د افغانستان په باب د روسيې د راتلونکی دريځ ټاکل کيږي )) په نامه د يو تحليلي رپوټ پروژه پرته ده چې د روسيې او افغانستان ترمنځ دهمکارۍ په برخه کې لومړنی عام علني ګام دی. د دې رپوټ لاسته راوړنه بايد دا وي چې د کارپوهانو او تحليل ګرو ټولنو نظريات راټول او د افغانستان په برخه کې د روسيې نوی سياست تدوين شي.

موږ په دې لار کې د دوهم قدم په توګه وړانديز کوو چې د افغانستان د پرمختيا په پرابلم د بحث لپاره په مسکو کې يو کنفرانس جوړ شي. په دې کنفرانس کې به سياسي او ټولنيز کارپوهان، څېړونکي او پلان جوړونکي برخه ولري اود افغانستان د پرمختيا کمپلکس پلان به طرح او تدوين کړي.

دروسيې د دموګرافۍ، ايميګريشن (مهاجرتونو) او منطقوي پرمختيا انستيتوت ټولو ذيعلاقه افرادو او سازمانونو ته د همکارۍ بلنه ورکوي.

**Юрий Крупнов**
kroupnov@gmail.com
http://www.idmrr.ru